# نو کله چې له الله څخه دعا کوئ، فردوس ترې وغواړئ

له عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «په جنت کې سل درجې دي، د هرو دوو درجو ترمنځ واټن د آسمان او ځمکې ترمنځ په اندازه واټن دی، او فردوس تر ټولو لوړه درجه ده، له هماغې څخه د جنت څلور واړه ويالې بهيږي، او د هغې له پاسه عرش دی؛ نو کله چې له الله څخه دعا کوئ، فردوس ترې وغواړئ».

[صحيح] [ترمذی روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د آخرت په جنت کې سل درجې (رتبې او مقامونه) دي، د هرو دوو درجو ترمنځ واټن لکه د آسمان او ځمکې ترمنځ هومره دی، د دې جنتونو تر ټولو لوړ جنت فردوس دی، له همدې فردوس څخه د جنت څلور واړه ويالې بهيږي، او د فردوس له پاسه د الله تعالی عرش دی، نو کله چې له الله څخه جنت غواړئ، فردوس وغواړئ، ځکه دا د ټولو جنتونو څخه لوړ دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65188